# د عوبدیا نبي کتاب

## د کتاب پېژندنه

دا لنډ کتاب د میلاد نه مخکې په ۵۸۶ کال د اورشلیم د سقوط څخه وروسته لیکل شوی دی، کله چې جنوب ختیځ خواته د یهودا پخوانی دښمن ادوم نه یوازې د اورشلیم په سقوط خوشحاله شو، بلکې د یهودا د غمجن او خطرناکه حالت څخه یې ګټه واخیستله، ترڅو ښار لوټ کړي او د یرغل کوونکي سره مرسته

وکړي. د ادوم خلک د عیسو د اولادې، د یعقوب ورور او په حقیقت کې د اسراییلو قوم ته یو نژدې قوم دی. عوبدیا پېشګویي وکړه چې ادوم ته به د نورو قومونو سره چې د اسراییلو دښمنان وو، سزا ورکړي او ماتې به وخوري. عوبدیا د خلکو غوږونو ته دا خبره رسوله چې ټوله نړۍ د خدای ده او یوه ورځ به ښښتن په هغې باندې حکومت وکړي.

**د موضوعګانو لست**

د ادوم سزا: ۱–۱۴ ایتونه

د ښبتن د قضاوت ورځ: ۱۵–۲۱ ایتونه

**ښبتن ادوم ته سزا ورکوي**

۱ دا د عوبدیا هغه رویا ده چې ښبتن خدای ورته د ادوم د قوم په هکله ښودلې وه:

مونږ واورېد د ښبتن نه یو پیغام

هغه ولېږه قومونو ته

استازی چې وايي

پاڅئ او تيار شئ د
ادوم سره د جنګ
دپاره

٢ وايي ښبنتن ادوم ته

زه به کمزوری کړم تا
د قومونو منځ کې

هرڅوک به ګوري
درته په سپکه
سترګه

۳ ته غولولی يې خپل غرور

ته چې اوسېږې په
کمرونو کې

او جوړوې خپل کور
لوړو ځايونو کې

د خپل ځان سره ته وايې
چې

څوک به راښکته
کاندې ما لاندې؟

۴ که د عقاب په شان والوزې
ته پورته

او جوړه کړې خپله
ځاله د ستورو منځ
کې

چې ښکاره شي داسې چې
وې د ستورو منځ کې

خو راښکته کوم به
دې زه خښتن
داسې ویلي دي:

۵ که غله راشي د شپې او لوټ
کړي تا

نو یوازې یوسي به
هغه څه چې زړه
یې غواړي

کله چې خلک راټولوي
انګور

لږ څه پرېږدي همېشه

خو ستا دښمنان به تا
بیخي ورک کړي

۶ اولاده به د عیسو لوټ شي

او یووړل به شي پټې
خزانې د هغوی

۷ ته غولولی یې ټولو ملګرو
خپلو

ته یې شړلی یې له
خپل وطنه

چې روغه جوړه کومو خلکو
کړې وه تا سره

اوس شول کامیاب په
تا

کومو دوستانو چې خوړلې وه
ډوډی ستا

دام تا ته یې ایښی ؤ

ستا په هکله وایي: څه
شوه د هغه
ځیرکتیا؟ ⑧
څښتن داسې
ویلي دي:

په هغه ورځ چې ادومیانو ته
سزا ورکوم

زه به تباه کړمه د دوی
هوښیار خلک

او زه به ورک کړم ټول
پوه خلک د هغوی

٩ سخت به وویرېږي تیمان د
ښار جنګیالیان

او وبه وژل شي هر
عسکر ادوم کې

## ادوم ته د سزا ورکولو دلیلونه

١٠ په دې خاطر چې تا دی
کړی ظلم

په خپلو ورونو یعنې
په اولادې د
یعقوب

ته به پټ شې په
شرمونو او تباه به
شې د تل دپاره

١١ چې کله ماتې دښمنانو کړلې

# دروازې د هغوی

په هغه ورځ ته یوه
خوا کې وې ولاړ
ورته

ته هم وې داسې بد پردیو
خلکو په شان

چا چې یووړلو مال او
دولت د اورشلیم

ویې ووېشلو اورشلیم خپل
منځ کې

په پچې اچولو سره

١٢ باید چې ته خوشحاله شوی
نه وای

په بدبختۍ د خپلو
ورونو په یهودا کې

باید چې تا خوشحالي کړې
نه وای

د هغوی د بربادۍ په
ورځ

تا باید دوی پورې خندلي نه
واى

د هغوی د مصیبت په
ورځ

١٣ باید چې ته ورننوتی نه وای
زما د قوم ښار ته

په هغه ورځ چې وو
راګیر سختو کې

خوشحاله شوی باید
نه وای د هغوی په

تماشه باندې

لوټ کړی نه وای تا مال او
دولت د هغوی

په هغه ورځ چې
مصیبت کې ؤ دوی

١۴ ته باید نه وای ولاړ په ځلور
لارې کې

چې ووژنې هغه خلک
چې تښتېدل به

باید چې نه وای تسلیم کړي
دوی تا دښمنانو ته

په کومه ورځ چې
مصیبت کې وو
دوی

## د ښبنتن د قضاوت ورځ

۱۵ رانژدې شوې هغه ورځ چې
زه ښبنتن به

قضاوت کومه نورو
قومونو سره

ای ادومه، تا چې کړي دي
څه

وبه شي تا سره
هماغسې کار

څه چې تا کړي دي
په تا به وشي

۱۶ تریخ جام دی څښلی زما
قوم د سزا

په سپېڅلي غره زما

خو هم به يې وځبني ادوم او
د شاوخوا قومونه

د دې نه ډېر تریخ
جام د سزا

هغوی به تړول وځبني
او شي به پناه له
سترګو

١٧ خو ځيني به بچ شي د
صهيون په غره کې

او سپېڅلی ځای به

وي بيا

بيا اولاده به د يعقوب ونيسي
د هغو خلکو ځمکه

چې يې نيولې وه له
دوی څخه

١٨ وي به د اور په شان د
يعقوب او د يوسف اولاده

کړي به نابود هغوی
اولاده د عيسو

لکه ښنګه چې اور بوس
سوځوي

داسې به پاتې ژوندی
نه شي د عیسو
اولاده ما ښبنتن
داسې ویلي دي.

## د ښبنتن پاچاهي

۱۹ د جنوبي یهودا خلک به ادوم
ونیسي

او د لوېدیځو غرو

لمنو خلک به
فلسطین ونیسي

اسراییلیان به نیسي د افرایم
او د سامرې سیمې

او د بنیامین خلک به
جلعاد ونیسي

٢٠ شي راستانه به د اسراییلو له
شماله

جلاوطنه لښکر به
فینیقیه ونیسي

د شمال نه تر زرفت
پورې

د اورشلیم جلاوطني خلک
چې دي ساردیس کې

هغوی به ونیسي
ښاروونه د جنوبي
یهودا

۲۱ د اورشلیم بریالي خلک به

حمله وکړي په ادوم
باندې

# حکومت به کاندي په هغه باندې

# او ثبنتن به خپله وي

# پاچا

تاسو پوښتني لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳